مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکونکي: Brüder Grimm
ژباړن: رنګاګل اریوبزی

۲۰۲۱/۰۵/۰۷

# زوړ نيکه او دهغه لمسی

## د ماشومانو له پاره لنډه کيسه

يو وخت يو ډير زوړ سړی چې لا ژوندی و، د سترګو ليد يې کمزوری شوی و، په غوږو يې ښه نه اوريدل اوځنګونونه يې لړزيدل. کله به چې په دسترخوان کيناست، کاشغه يې په لاس کې سمه نه شوه نيولی، شوروا به له کا شغې يو څه په د سترخوان ترې توئيده او يو څه به يې له خولې هم بيرته څڅيده.

د زوی او د هغه ميرمني کرکه ترې کيده، نو ځکه يې نور له دوی سره په يوه دسترخوان د ډوډۍ خوړو اجازه نه درلوده او دا زوړ نيکه مجبور و چې هلته د بخاری ترشا، په يوه کونج کې، د د وی له سترګو پنا، کښيني او ډوډۍ وخوري.

ده ته يې په يوه کنډول (خاورينه کاسه) کې دومره ډوډۍ ورکوله، چې پوره نه په موړيده، په غمګينو سترګو به يې د دستر خوان وخوا ته کتل او له ستر ګو به يې د اوښکو څاڅکي را څڅيدل. يو وار يې په لړزيدونکو لاسو کې کاسه ټينګ نه شوه نيولی، په ځمکه ترې ولويده او ماته شوه. ننګور يې سخت وښکنځه، ده نور هيڅ نه ويل او يوازې اوسلې يې ايستل. بيا يې په څو ټنګو يوه تتی (لرګينه کاسه) ور ته را ونيوله او په هغې کې يې ډوډۍ ورکوله.

اوس نو چې دوی هلته سره ناست وو، کوچنی لمسي يې، چې څلور کلن و، د ځمکې په سر څه کوچنې توټې راټولولې. پلار يې ترې وپوښتل چې:

«څه کوې؟»

ده ځواب ورکړ چې:

«زه يو کنډول جوړوم، کله چې زه لوی شم، مور او پلار به مې په دې کنډول کې ډوډۍ خوري.»

په دې خبره ميره او ميرمني يوه بل ته وکتل او دواړه په ژړا شول، په بيړه يې زوړ نيکه بيرته دستر خوان ته راوست او اجازه يې ورکړه چې وروسته له دې به له دوی سره يو ځای په يوه دسترخوان ډوډۍ خوري او که په دسترخوان يو څه ترې توييدل هم، څه يې نه ورته ويل.

Liste von Märchen - Grimms Märchen - Grimmstories.com


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ